د افغـــــــانستان اســــــلامي امارت
د مهاجرينو او راستنېدونكو چــــارو وزارت
مالي او اداري معينيت
د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست
د اطلاعاتو آمريت

۲۸ ګنه لړم ۱۴۰۳ : شماره (۲۸) عقرب ۱۴۰۳ : صفحه اول : لمړی پانه

اونیزه راستنېدنه عــــودت هفته نامه



د نړيوالو قوانينو مطابق په اسلامي او ملي اصولو له نړۍ سره د تعامل لپاره زموږ دروازې خلاصې دي، خو د هېواد ابادي زموږ خپل مسووليت دی، چې له انتظار پرته به يې افغانان په ګډه تر سره کوو
الحاج خليفه سراج الدين حقاني

# د مهاجرينو چارو وزارت له خوا د «مهاجرين؛ ننګونې او فرصتونه» په نوم يو ورځنی علمي سيمينار جوړ شو

د «مهاجرين، ننګونې او فرصتونه» يو ورځنی علمي سيمينار په بابربڼ کې د مهاجرينو چارو وزارت له خوا د جګپوړو دولتي چارواکو، د همکارو بنسټونو د استازو، علماوو، جهادي شخصيتونو او د پوهنتون د استادانو په شتون کې ترسره شو.

د مهاجرينو او راستنېدونكو چارو وزير الحاج خليل الرحمن حقاني د دې علمي سيمينار په پيل کې وويل: خوښ يو چې د مهاجرينو په علمي سيمينار «مهاجرين؛ ننګونې او فرصتونه» کې سره يو ځای يو او له لوی څښتن (ج) څخه تاسې ته د برياليتوب هيله کوم.

موږ د هغو ورونو لپاره چې په بهر کې دي، د يووالي، وروروليۍ او د هغوی د ستونزو د حل په برخه کې خپل مسوليت درک کوو، چې د خپلو مهاجرينو ستونزې حل کړو.

په تېرو درې کلونو کې ميليونونه مهاجر خپل هېواد ته راستانه شوي دي او اوس هم ډېر افغان مهاجرين له سختو شرايطو سره مخ دي. موږ په دې برخه کې د امارت او ملت همکاري غواړو او مهاجرينو ته ډاډ ورکوو، چې اسلامي امارت له تاسې سره دی، کوم مسوليت چې موږ ته راسپارل شوی دی، شپه او ورځ به ستاسې په خدمت کې يو.

نوموړي د اسلامي امارت د رهبرۍ د مدبرانه مديريت ستاينه وکړه او له سوداګرو او مخورو څخه يې وغوښتل، چې د مهاجرينو مرسته او لاسنيوی وکړي.

د افغانستان د اسلامي امارت د رياست الوزرا سياسي مرستيال مولوي عبدالکبير په دې مراسمو کې وويل: د بهرنيو بېلابېل يرغلونه د دې سبب شول، چې د افغانستان مسلمان خلک له هېواد څخه ووځي او شپې او ورځې په بهرنيو هيوادونو کې تېرې کړي.

نوموړي د مهاجرينو او راستنېدونكو چارو وزارت د کارونو ستاينه وکړه او له ګاونډيو هېوادونو يې وغوښتل، چې د مهاجرينو حقونو ته درناوی وساتي او ښه چلند ورسره وکړي.

دغه راز د رياست الوزرا سياسي مرستيال له بنسټونو وغوښتل، چې د ژمي له رارسېدو وړاندې له مهاجرينو سره مرسته وکړي او له پانګوالو يې هم غوښتنه وکړه، چې هېواد ته راستانه شي او افغانانو ته د کار زمينه برابره کړي.

د مهاجرينو چارو وزارت مسلکي مرستيال مولوي عبدالرحمن راشد وويل: خوښ يو چې يو خپلواک او اسلامي حکومت لرو او په ډاډمنه فضا کې د داسې يو سيمينار د ترسره کېدو ګډونوال يو.

ميليونونه هيوادوال د ستونزو، بې عدالتۍ او جګړو له امله بهرنيو هيوادونو ته مهاجر شوي وو.

ښاغلي راشد زياته کړه: اسلامي امارت د خپل وس او توان برابر ستاسې همکار دی.

د اسلامي امارت رهبري پخپل مدبرانه مديريت سره وکولای شول چې د مهاجرينو اجباري راستنېدنه تر خپلې وسې کنترول کړي.

دغه وزارت هڅه کوي، چې د مهاجرينو د راستنېدو لپاره زمينه برابره کړي او د اسلامي امارت له بريا وروسته بيرته راستنېدنه پرمخ هم تللې ده.

د ازموينو ملي اداري لوی رييس شيخ عبدالباقي حقاني هم ګډونوالو ته د اسلام د مبين دين د لارښونو له نظره د هجرت او مهاجرت په اړه خپله عالمانه وينا واوروله.

د دې يو ورځني علمي سيمينار بل ويناوال د ارشاد، حج او اوقافو وزارت مسلکي مرستيال شيخ زرمحمد حقاني د خپلې وينا په يوه برخه کې وويل: د اسلامي نظام د ټينګښت لپاره هجرت مهم دی، د الله ج حکمونه له اسلامي نظام سره پلي کېږي او د افغانانو هجرت د يو اسلامي نظام د رامنځته کېدو لپاره و.

په همدې ډول د اوبو او انرژۍ وزارت سلاکار ډاکتر فاروق اعظم د ښار او کور جوړونې وزارت مرستيال ارسلا خروټي، د کانونو وزارت حقوقي سلاکار پوهنمل عبيدالله اخُندزاده، د مهاجرينو چارو وزارت مشاور مفتي محمود ذاکري او د پوهنتون دوو استادانو هم په دې علمي سيمينار کې خپلې ويناوې له ګډونوالو سره شريکې کړې.

دا سيمينار په ځو شعرونو او د مهاجرت په اړه د تياتر په يوې ننداري سره پای ته ورسيد.




## د مهاجرينو چارو وزير: د مهاجرينو لپاره بايد رښتيانی خدمت وشي

د مهاجرينو او راستنېدونكو چارو وزير الحاج خليل الرحمن حقاني نن له لمانځه وروسته د وزارت په جومات کې کارکوونکو ته وويل: افغان مهاجرين زموږ او ستاسې کړېدلي ورونه دي، چې د ستونزو له امله بهرنيو هېوادونو ته مهاجر شوي دي او موږ بايد د دوی د ستونزو د حل لپاره رښتيني خدمتونه وکړو.

هغه د اسلام مبارک دين لارښوونو ته په اشارې سره وويل: الله تعالی دې موږ ته د عبادت او خدمت توفيق راکړي، چې په ډاډمنه فضا، يووالي او اتفاق کې د خپلو مهاجرو ورونو خدمت وکړو او د نورو لپاره يوه نمونه واوسو.

ښاغلي حقاني د وزارت کارکوونکي د الله تعالی د احکامو اطاعت او عبادت ته وهڅول او د چارو په ترسره کېدو کې يې پر ضادقانه خدمت، روڼتيا او له مراجعينو سره پر ښه چلند ټينګار وکړ.



د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

۲۸ ګنه لړم ۱۴۰۳ : شماره (۲۸) عقرب ۱۴۰۳ : صفحه دوم : دوهمه پاڼه



اونیزه راستنېدنه
هفته نامه عودت

# ۲۸ افغان بندیان د عراق له بندخونو ازاد شول

## مهتمم مدرسه جهادی ولایت بامیان، با وزیر امور مهاجرین دیدار نمود



شیخ محمد قسیم حلیمی مهتمم مدرسه جهادی ولایت بامیان با شماری از استادان آن مدرسه با محترم الحاج خلیل الرحمن حقانی وزیر امور مهاجرین و عودت کننده گان دیدار نمودند.

دراین دیدار آنان در مورد اهمیت مدرسه صحبت نموده مشکلات شان را با محترم حقانی در میان گذاشتند.

وزیر امور مهاجرین از حل مشکلات آنان در تشریک مساعی با ادارات ذیربط اطمینان داد.

## د مهاجرینو چارو وزارت اداري ناسته وشوه



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د مالي او اداري مرستیال ښاغلي شیخ کلیم الرحمن فاني په مشرۍ او د ریيسانو او مسولانو په ګډون د وزارت اونیزه اداري ناسته وشوه.

ناسته قران کریم په څو مبارکو ایتونو پیل شوه او د تېرې ناستې د پرېکړو په تعقیب د افغاني سرې میاشتې په څانګړې اونۍ کې د مرستې غوښتنو، د میدان وردګ ولایت د مهاجرینو چارو آمریت اړوندو کورونو، په تورخم کې د عمرې مېشتغالي د کارکوونکو د تشکیل او د دایمي حلالرو د موندنې کاري ټیم د کاري لایحې په اړه خبرې وشوې.

د وزارت مالي او اداري مرستیال د ناستې ګډونوالو ته اړینې لارښوونې او سپارښتنې وکړې او مسولینو ته

یې پر دقیقو، اغېزناکو او ګرندیو کړنو ټینګار وکړ.

## د څه باندې دوه میلیونو ډالرو په ارزښت درې هوکړه لیکونه لاسلیک شول



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت او د اداري او د روغتیا انکشاف، د ښځو لپاره د ښځو او د اکتېډ موسسې ترمنځ د دوو میلیونو، څلورسوه ۹۸ زره او ۶۳ امریکایي ډالرو په ارزښت د همکارۍ درې هوکړه لیکونه لاسلیک شول.

د دې هوکړه لیکونو له مخې د ښځو لپاره د ښځو موسسه یو میلیون ۲ سوه ۶۱ زره او ۸۷۸ ډالر په بلخ، سمنګان، جوزجان، فاریاب، بغلان، تخار، کندوز، بدخشان او سرپل ولایتونو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ د دفتر د لوژستیکي ملاتړ، د داخلي بېځایه شویو د ملاتړ او څارنې، د بېځایه شویو او راستنو شویو د وضعیت د تجزیې او تحلیل د راټولونې او ډونر ته یې د وړاندې کولو، د پوهاوي ورکونې، د ارمنو پېژندل او ۱۰ زره او ۵۵۰ تنو ته د رواني مشورې ورکولو په برخو کې لګوي.

اکتېډ موسسه په کونړ او لغمان کې ۸ سوه ۷۳ زره او ۶۵ ډالر د سرپنا او روغتیا په برخو کې لګوي، چې ۲۹۶ کورنۍ به ترې ګټه واخلي.

او د اداري او انکشاف موسسه په بغلان، سمنګان، بلخ او جوزجان کې درې سوه ۶۴ زره او ۱۲۰ ډالر د پوهاوي ورکونې د پروګرامونو جوړولو، د حرفوي کڅوړو وړاندې کولو، د ۸ زراعتي نرسرۍ، ښوونیز پروګرام، حمایوي کمېټې او د اتو وړو پروژو ملاتړ په برخو کې لګوي، چې ۹۴۰ کورنۍ به ترې ګټه واخلي.

دا هوکړه لیکونه د وزارت د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد او د دغو موسسو د استازو له لوري لاسلیک شول.

## معاون سازمان جهانی خوراک، با معین مسلکی وزارت امور مهاجرین ملاقات کرد



آقای هارالد منهاردت، معاون سازمان جهانی خوراک با محترم مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان ملاقات نمود.

در این دیدار که خانم پاولین ایلوف مسوول بخش کمک های بشری آن سازمان و شماری از رو سای مرکزی وزارت نیز حضور داشتند در مورد رسیده گی به وضعیت بیجاشده گان داخلی در ولایات خوست و پکتیکا بحث شد.

آقای راشد با قدردانی از کارکرد آن سازمان خواهان کمک رسانی به خانواده های بیجاشده ناشی از حوادث طبیعی در ولایات مختلف کشور شده از همکاری وزارت بر شناسایی مستحقین اطمینان داده و تاکید بر مساعدت به موقع برای بیجاشده ها و برگشت کننده ها قبل از فرا رسیدن فصل سرما نمود.

آقای هارالد منهاردت با تشکری از آقای راشد گفت: هدف اصلی این سازمان رسیده گی به مشکلات و شناسایی مستحقین طور مشترک و در هما هنگی با یک دیگر میباشد.

وی از محدود بودن بودیجه آن نهاد نیز یاد آوری شده بر شناسایی خانواده های مستحق واقعی با همکاری وزارت امور مهاجرین تاکید کرد.

مولوی سردار شیرزاد رییس رسیده گی به وضعیت بیجاشده گان داخلی از ترتیب پروپوزل برای کمک به خانواده های بیجاشده در فصل سرما و رسیده گی بهتر به آن معلومات را شریک ساخته که از جانب خانم پاولین ایلوف در مورد آن بر نشست بعدی در آینده تاکید صورت گرفت.

د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

۲۸ ګنه لړم ۱۴۰۳ : شماره (۲۸) عقرب ۱۴۰۳ : صفحه سوم : دریمه پاڼه

اوونیز راستنېدنه
هفته نامه عودت



**یک باب مکتب در شهرک مهاجرین ولایت دایکندی به بهره برداری سپرده شد**

## نزدیک به ۳ هزار خانواده در ولایات کشور کمک شد



در جریان یک ماه گذشته (میزان) نزدیک به ۳ هزار خانواده بیجاشده و متضرر ناشی از حوادث طبیعی در ۲۳ ولایت ازطریق واحد های دومی وزارت امور مهاجرین مساعدت شدند.

طبق گزارشات واصله واحد های دومی وزارت امور مهاجرین در ولایات فاریاب، غزنی، غور، سرپل، میدان وردک ننگرهار، پکتیکا، پکتیا، تخار، لغمان، ارزگان، بدخشان، کندز، هلمند، خوست، جوزجان، بادغیس فراه، سمنگان پروان، بغلان، نیمروز و بلخ ۲ هزارو ۹۰۴ خانواده بیجاشده، برگشت کننده، بی بضاعت، معلول، متضرر و معیوب را با همکاری شماری از سازمان‌های مددرسانی بین المللی، مساعدت نموده اند.

منابع اضافه نموده اند که مساعدتهای توزیع شده، شامل بسته های نقدی، بز های شیری، خیمه و مواد خوراکی بود که درحضور داشت نماینده های نهاد های کمک کننده توزیع شد.

## نیمروز کې یو ښوونځی تر جوړېدو وروسته د پوهنې ریاست ته وسپارل شو



د نیمروز ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د معلوماتو له مخې، د زرنج ښار په مهاجر آباد کلي کې یو ښوونځی تر جوړېدو وروسته په مراسمو د مهاجرینو، پوهنې او اقتصاد رییسانو او د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ او د سیمې د خلکو د استازو په شتون کې د تلې پر دیرشمه د دغه ولایت د پوهنې ریاست ته ګټې اخیستنې لپاره وسپارل شو.

دغه ښوونځی د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ په مالي مرسته د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همغږۍ په ۲ زره او ۳۴۱ متره مربع مساحت کې په دوه پوړونو کې په اساسي او

پاخه ډول جوړ شوی دی، چې ۱۶ درسي ټولګي، کمپیوټرلب، د لابراتوار خونه، د ساتونکي خونه، د ورزش میدان، د اوبو ذخیره، ۱۸ تشنابونه او د لمریزې برېښنا سیستم لري او د ۳۳۰ زره او ۲۰ امریکایي ډالرو په لګښت جوړ شوی، چې په یوه وخت کې ۵۶۰ زده کوونکو ته د زده کړو زمینه برابروي.

## نشست کمیته توزیع زمین در ولایت دایکندی برگزارشد

نشست کمیته توزیع زمین برای برگشت کننده گان اجباری از کشور های همسایه در ولایت دایکندی با حضور اعضای کمیته یاد شده بر ریاست رییس شهرسازی و مسکن به تاریخ ۳۰ میزان برگزارشد.

در نشست در مورد محتوای فرمان و طرزالعمل توزیع زمین برای برگشت کننده گان و تعین محل مناسب زمین برای توزیع نمرات رهایشی بین شاملین بحث صورت گرفت.

## ننګرهار کې د ځمکو وېش کمېټه جوړه شوه



په ننګرهار ولایت کې له ګاونډیو هېوادونو څخه په جبري توګه راستنېدونکو مهاجرینو ته د سرپنا جوړولو په موخه د ځمکې د وېش په اړه د عالیقدر امیرالمؤمنین د شپږمې ګڼې فرمان پر بنسټ د لړم میاشتې پر لومړۍ نېټه د ځمکو د وېش ځانګړې کمېټه جوړه شوه.

په همدې موخه د ننګرهار مرستیال والي مولوي عزیزالله مصطفوي په مشرۍ په جوړې شوې ناسته کې د دې کمېټې لپاره، د ښار او کور جوړونې، جلال اباد ښاروالۍ، مهاجرینو او راستنېدونکو چارو، اوبو رسونې، سمندري حوزې، چاپېریال ساتنې، د کلیو پراختیا او بیارغونې او نورو دولتي ادارو استازي وټاکل شول.

د ننګرهار مرستیال والي د دغې کمېټې غړو ته لارښوونه وکړه، چې له فرمان او ورکړل شوي کرنلار سره سم کړنې وکړي او د راستنو شویو کورنیو د اوسېدو ځایونه غوره کړي او بشپړ معلومات یې مرکزي کمېټې ته وړاندې کړي، چې په اړه یې وروستي اقدامات ترسره شي.

ټاکل شوې چې د مرکزي کمېټې پلاوی هم دغه ولایت ته سفر وکړي او له ولایتي ادارې سره په همغږۍ د راستنېدونکو کورنیو د اوسېدو د ځای په اړه پرېکړه وکړي.

د یادونې وړ ده، چې په ننګرهار ولایت کې د مخکنیو راستنو شویو په مېشتغالو کې مېشتو مهاجرینو ته د سرپنا د ځای د غوره کېدا کار هم روان دی.

## یک باب مکتب در شهرک مهاجرین ولایت دایکندی به بهره برداری سپرده شد



یک باب مکتب در شهرک مهاجرین ولایت دایکندی، با حضور نماینده های ادارات ذیربط حکومتی و موسسات همکار در آن ولایت پس از ساخت افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

مکتب مذکور با حمایت مالی کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان به ارزش ۳ صدو ۱۳ هزار دالر امریکایی توسط شرکت گرین اسکای در مدت یکسال با هماهنگی و نظارت آمریت مهاجرین دایکندی در دو طبقه اعمار شده است که دارای ۱۲ صنف درسی بوده که گنجایش ۷۵۰ دانش آموز را را در دو وقت درسی دارد.